## څلوېښت زره مجاهدین مسلکي شول

**امین وردګ**

دا چې تېر شل کلن بدمرغ اشغال زموږ ډېری ځوانان له زده کړو څخه محروم کړي وو، چې هر یوهٔ آزادي غوښتونکي ته بهٔ د مدرسو ترڅنګ - ښوونځي، انستیتیوتونه او پوهنتونونه هم زندانونه وو او هېڅ ډول مصئونیت یې نهٔ پکې لرلو، ځکه خو ځینې له مدرسو څخه لاړل غرونو ته، ځینې له ښونځیو او ځینې نور له لیلیو څخه؛ یانې هغوی چې د آزاد فکر خاوندان وو او د اصالت ژوند ته یې د غلامۍ پر ژوندون ترجیح، برتري او اولویت ورکولو - خپل آرمانونه یې د الله پهٔ لاره کې له جهاد او مبارزې څخه نثار کړل او تر هغې یې دا لاره پرېنښوده، څو یې ټول افغانستان له کرغېړن اشغال څخه آزاد او مصئوت و ایست.

یوه نکته د یادولو وړ ده او هغه دا چې کله هم مبارز ځوانان د اشغال د خاتمې او بشپړې آزادۍ د ترلاسه کولو پهٔ پار راپورته شوي دي، خپل ټول مادیات یې له دغې سپېڅلې لارې څخه قربان کړي او د دوی د زحماتو او تکالیفو له امله رب العزت د دوی نصرت کړی، نهٔ ماتېدونکی دښمن یې ورته مات کړی او فتح یې د دوی پهٔ نصیب کړې ده؛ خو متأسفانه چې بیا د دوی همغه جهادي ستړیاوې د ځینو سیاستمدارو ښامارانو د کرغېړنو سیاستونو ښکار شوې او دوی له دواړو امتیازونو (علمي زېور او سپېڅلی حاکمیت) څخه بې برخې شوي دي، چې له ټولو ستر لامل یې د مجاهدو ځوانانو غیر مسلکیتوب یادولی شو؛ راځئ...! کله چې د اسلامي قلمرو پهٔ هره څنډه کې مجاهدین بریالي شوي او فتح یې رب نصیب کړې، نو سملاسي حکومتولۍ ته ننوتلي دي، خو دا چې پهٔ حکومتولۍ کې اداري وړتیا او پوهه شرط او ډېر اړین وي! نو له همدې امله د مخلصو کسانو کم علمۍ ته پهٔ کتو، اداري خلا رامنځته شوې! مانا دا چې کله مجاهدو کسانو له اداري بستونو سره نابلدي ښوولې، د موفقیت او مؤثریت پهٔ برخه کې کم راغلي چې بیا کارونه هم له همدې وجهې درېدلي یا ډېر ضعیف دي، نو رهبري اړه شوې چې یاد کسان له مسلکي او کاري بستونوڅخه لیرې کړي، ځکه خو د خلا د ډکولو له امله کارونه بېرته ځینو همغو فاسدو کسانو ته پاتې شوي چې د همدوی له امله نظامونه ناقص ښوول شوي وو، نو پهٔ نتیجهٔ کې هر نوی انقلابي نظام یو ځل بیا پر فساد اخته شوی او پهٔ وړاندې یې ملت سوتې ته لاس کړی او چپه کړی یې دی! خو الحمدلله، داوار دغې نکتې ته پهٔ افغانستان (د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري له خوا) جدي توجه وشوه، د مجاهدینو لپاره د زده کړو طرحه یې د اسلامي امارت عالي مقام ته وړاندې کړه چې د هغوی له خوا یې د تود هرکلي ترڅنګ د جدي او عاجلې مرستې ژمنه هم وشوه چې بیا یې د پروسې ترپایه پهٔ ښه توګه عملي کړه او یاده علمي طرحه پرته له خنډ او ځنډ څخه پلې شوه او پای ته و رسېده چې نظام ته یې (۴۰۰۰۰) مجاهدین پهٔ مسلکي لباس ملبوس وړاندې کړل، چې دا یو لوی او پهٔ افغانستان کې بې مخینې کار دی؛ نهٔ یوازې یاده اداره! بلکې د ښوونې او روزنې وزارت ترڅنګ د لوړو زده کړو وزارت هم پهٔ دغهٔ علمي جریان کې پوره سهم اخیستی؛ معارف وزارت د مجاهدینو د علمي سویې تثبیت کړی او لوړو زده کړو وزارت ژمنه کړې چې ټولو څلوېښتو زرو

فـوق بکلوريـا مجاهــدينو تــه بــۀ د ليســانس او فــوق يــا مــافوق ليســانس تــر کچــې د زده کــړو زمينــه برابــروي او دا کــار هم کيږي ان شاءالله.

اوس دې رب وکــړي چــې يــاد مجاهــدين خپلــو زده کــړو تــه دوام ورکــړي او پــۀ نظــام کــې د تعهــد تــر څنــګ مسلکيتوب ته هم کلکه توجه وشي.